

**نورمحمد غفوری**

## د زړه احساس

د هجران سختي شيبې نګار مې نشته      د وختونو ازمويلی يار مې نشته

د عيشو په نېشو مست کله ويښيږی؟      د رنځو نېشه ياران د بار مې نشته

دا د مينې د ادراک په مشغولاکې      ماخستن را ځنې هير، ماښام مې نشته

له هيواده مې ګرداب د وينو جوړ دی      آرام نلرم، د زړه قرار مې نشته

د تنکو هيلو په وينو تجارت دی!      له صفا نه ډ ک زړګي بازار مې نشته

ما د شپو د زړو په تل کې سفر کړي      د ماښام له تروږمو نه ډار مې نشته

هر قدم چې وړاندې ږدم اغزی، ځوزان دی      فولادی پوندې لرم، پرې کار مې نشته

ددې ځمکې مخ هر ځای راته کورګئ شو      تيت پرک لرم ياران، ديار مې نشته

سر مې هم د چا په وره کې کښته نه دئ!      که د سترو خدمتو يادګار مې نشته

د رقيب د خپل ځان واک د لاسه تللی      زه خپلواک خو يم، که نوراختيارمې نشته

ساقی راشه د ځيګر وينې مې وېشه!      چا ويل چې خُم مې مات خمار مې نشته؟

دغه خپل د زړه احساس ياره درلېږم

د حساسو شيبو بل ريبار مې نشته

1995/0411 – ماربورګ- جرمنی